## څه وکړم که چیرې زه د موټر چلولو جواز وغواړم؟

تاسو اړتیا لرئ چې لومړی نظری یا د پوهې آزموینه کی ګډون وکړی، او وکولی شی چې په دی ازموینه کی بریالی شی ترڅو د موټر چلولو اجازه خط ترلاسه کړي، او وروسته له جواز لرونکي موټر چلوونکي سره د موټر چلولو تمرین وکړئ ترڅو وکولی شی چې د موټر چلولوعملی ازموینه هم په بریالیتوب سره ترسره کړی.

### ۱ پړاو: د موټر چلولو لارښود مطالعه کړي.

دا لارښود په غږیز او لیکل شوی بڼه شتون لری او له دغه بریښنایی پته څخه یی تر لاسه کولی شی.
https://www.dol.wa.gov/driverslicense/guide.html

### ۲ پړاو: آنلاین درخواست وکړئ.

د دی لینک په وسیله تاسو کولی شی چی انلاین غوښتنه ثبت کړی:
https://secure.dol.wa.gov/home/newDriver.aspx

- په ویب پاڼه کی یو حساب جوړ کړئ او لارښووني یی تعقیب کړئ.
- که تاسو دمخه د WDL شمیره ونلرئ نو تاسو ته به یوه شمیره درکړل شي کله چې تاسو انلاین غوښتنه وکړئ. دا شمیره چی په WDL سره پیل کیږی له ځانه سره ولری او کله چې د موټر چلولو د آزموینه یا د جواز تر لاسه کولو لپاره وخت نیسی نو تاسو به د شمیری ته اړتیا پیدا شی.

### ۳ پړاو: د ازموینی ورکولو لپاره د دی لینک په وسیله وخت ونیسی او لاندی پړاونه تعقیب کړی:

https://fortress.wa.gov/dol/extdriveses/NoLogon/_/

- یو بریښنالیک (ایمیل) چی تاسو ورته لاسرسی ولری چمتو کړی، د لایسنس ځانګه یا DOL به تاسو ته د دی ایمیل په وسیله د تاید کود، د ملاقات یا لیدنی بشپړ معلومات او ستاسو د لیدنی په موخه به لازمه لارښونی واستوی.
- خپل د تلیفون شمیره په مربوطه برخه کی درج کړی، د دی په وسیله به تاسو وکولی شی چی مربوطه څانګه ته د خپل ملاقات یا لیدنی په اړه پیغام واستوی او لارښونی تعقیب کړی
- کوم چیری چی تاسو آزمونیه ورکوی له هغوی سره د آزموینه اخیستلو د لګښت په اړه خبری وکړی او نغدی پیسی یا د بانک کارت له ځانه سره ولری.
- کولی شی چی ازموینه څو ځلی ورکړی تر هغه چی په آزموینه کی بریالی شی، له ۴۰ سوالونو نه باید ۳۲ سوالونه حل کړی ترڅو بریالی شی. که چیری په ازموینه کی بریالی نشی نو ممکن تر یو وخته په تمه شی مخکی له دی چی تاسو بله هڅه وکړی.

### ۴ پړاو: د موټر چلولو جواز تر لاسه کول

- تاسو کولی شئ چی د جواز غوښتنلیک یا درخواست پاڼه په آنلاین یا هم د جواز ورکولو په دفتر DOL کښی ډک کړی. کارت به ستاسو د کور ادرس ته واستول شي.
- د لایسنس د قیمت تادیه اړینه ده.
- د دی جواز په اخیستلو سره اوس تاسو کولی شئ د موټر چلولو عملی تمرین وکړئ. تاسو باید خپل جواز له ځان سره ولرئ او په موټر کی ناست ټول کسان باید د موټر کمربند وتړی. تاسو په د مرحله کی د موټر مخکینی څوکۍ کې جواز لرونکي موټر چلوونکي ته اړتیا لرئ. دا کس باید لږترلږه ۵ کلنه د موټر چلولو تجربه او د اعتبار وړ جواز ولري.

## ۵ پړاو: د موټر چلولو عملی ازموینی ورکولو لپاره د دی لینک په وسیله وخت ونیسی او لاندی مرحلی تعقیب کړی:
https://fortress.wa.gov/dol/extdriveses/NoLogon/_/

- د ازموینه ورکولو تادیه اړینه ده. لګښت د موقعیت له مخې ممکن توپیر ولري.
- موټر مو باید په ښه حالت کښی وی یعنی کومه ستونزه و نه لری، تاسو کولی شی د ازمویني لپاره خپل موټر وکاروئ.
- که چیری د ازموینی لپاره خپل موټر کاروی نو د خپل موټر د بیمه سند له ځانه سره راوړی.
- تاسو باید لږترلږه له ۱۰۰ څخه ۸۰ نمرې ترلاسه کړی ترڅو بریالی شی

## ۶ پړاو: د موټر چلولو د جواز تر لاسه کولو لپاره د دی لینک په وسیله وخت ونیسی او لاندی مرحلی تعقیب کړی:
https://fortress.wa.gov/dol/extdriveses/NoLogon/_/

- ځان مطمین کړی چې د ملاقات لپاره خپل اصلي پیژندني اسناد له ځانه سره راوړئ. د اسنادو کاپي د منلو وړ ندي. د نورو اسنادو سر بیره چی په ویب پاڼه کښی ذکر شوی د کډوالۍ د تایید کځوړه یا د کار د اجازې سند هم د منلو وړ دی.
- د موټر چلولو د جواز تادیه اړینه ده.
- ستاسو عکس به مربوطه اداره کی د کارت چمتو کولو لپاره واخیستل شی

## که تاسو غواړئ چې موټر چلولو ټولو مسایلو باندی ځان پوه کړی نو کولی شئ د موټر چلولو روزنیز ټولګي کښی ځان ثبت او پیسې ورکړئ.

**نور معلومات:** په متحده ایالاتو کې د موټر چلولو لپاره د USAHello لارښووني د دی لینک په وسیله پیدا کولی شی.
/https://usahello.org/life-in-usa/daily-life/how-to-drive
د USA Hello ویب پاڼي اکثر معلومات په دري او پښتو ژبه ژباړل شوی دی.

که تاسو لا ډیرو معلوماتو او یا هم د فورمو ډکولو په برخه کښی مو مرسته ته اړتیا وه نو مهربانی وکړې مونږ ته په د پته (info@afghanadvantage.org) بریښنالیک رواستوی.